# د کمال خان بند سیاسي، حقوقي او ټولنیز ارزښت

محمد شفیق ژمن[1]

د بُست پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي رئیس او استاد

**لنډیز:**

**افغانستان او ایران د یو مشترک تمدني او جغرافیایي بستر په حضورکي د پېړیو راپدېخوا تقریبا د یو ښه ګاونډیتوب تجربه لري، البته ددې مځکني قرابت سره سره بیا هم د دواړو هیوادونو ترمنځ د پولي او اوبو پرسرخیني وخت شخړي رامنځته کېږي، چي ددې شخړو په رامنځته کېدو سره سیاسي اړیکي خړې پړي کېږي او دواړه دولتونه کوښښ کوي چي باید خپلي ملي ګټي وساتي.**

**پدې مسائیلو کي یو هم د هلمند د اوبو مسئله ده، چي پدې وختونو کي یوه ګرمه او مهمه موضوع ده، چي پدې وروستیو کي یې د مهارولو لپاره سیستماتیک کارپیل سوی او د هلمند پرسیند د کمال خان ستره ملي پروژه په کاراچول سوې ده چي تقریبا تخنیکي کارونه یې بشپړ او ډېرژر به ګټي اخیستني او فعالیت لپاره افتتاح سي.**

**حاضره لیکنه یوه کتابتوني څېړنه ده، چي ترډېره حده هڅه سوې چي ترڅو د کره او معتبرو کتابونو، مقالو، ویب پاڼو او... څخه پدې لیکنه کي ګټه واخیستل سي.**

**ددې لیکني اصلي موخه داده چي ترڅو پدې وپوهیږو چي د کمال خان بند سیاسي، حقوقي او ټولنیز ارزښت څه دی؟ او همدارنګه په کُل کي د کمال خان بند په جوړېدو سره د افغان ولس په ژوندانه کي به څه مثبت بدلونونه راسي؟**

**کلیدي اصطلاحات: اوبه، د هلمند د اوبو تړون، بهرنی سیاست، نړیوالي اړیکي، امنیت او ثبات.**

1 - د بُست پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي رئیس او استاد

**سریزه:**

اوبه د بشــر د حیات لپاره یوه ارزښــتناکه ماده ده، چي ارزښـــت يې د اســلام په مبارک دین کي په بهترین ډول تعریف ســوی دی (النحل، آیت ۱۰)[2] نو په همدې دلیل دا ثابته ده چي د دولتونو پر ثبات او بې ثباتۍ مستقیمه اغېزه درلودلای سي (www.bluepease.org: 2021).

په دې خاورینه کُره کي چي تقریبا یوه برخه يې وچه او درې برخي يې اوبه تشـکیلوي، خو ددې سـره سـره بیا هم د پاکو او خوږو اوبو مقدار د امریکا متحده ایالاتو د جیولوجیکي سـروې پر بنسـټ ۳ سـلنه ښـوول سـوې ده او ددې درې سـلنو اوبو څخه یوازي ۲,۵ يې د مځکي په تل او ۰,۵ سـلنه يې په سیندونو او حوضونو کي موندل کېږي (Nationalgeographic.org).

په نړیوالو اړیکو کي د دولتونو تر منځ د وسله والو نښتو د مستقیمو لاملونو څخه یو لامل خوږې اوبه دي، چي خوشبختانه زموږ ګران هیواد افغانستان د خوږو اوبو ډېره برخه په واک کي لري.

اوســـنیو پېړیو کي دولتونه اوبه د وســـلې په توګه کاروي، چي د نړیوالو اړیکو او پر دولتونو د تاثیر درلودلو لپاره بهترینه لار او وسیله ده او ددې تر څنګ ځیني وختونه د دولتونو د اړیکو په خرېړوالي کي هم رغنده رول درلودلای سي.

د یوویشـــتمي پېړۍ له مســـائیلو او د بهرني ســـیاســـت د الې په توګه د اوبو د ډیپلوماســـۍ یادونه ضـروري ده، ځکه دولتونه د کاله په میلیاردو ډالر له خپلو اوبېزو سـرچینو څخه تر لاسـه کوي او په دغو پیسو خپل دولتونه رغوي (یونیسیف: ۲۰۱۹).

د اوبو مهارول د ولسـمشـر اشـرف غني د ټاکنېزو کمپاینونو شـعار او دده د لومړي دورې ډېر ګرم عنوان و چي ولسـمشـر به پرې ټینګار کاوه او اوبه يې د افغانسـتان عزت وګڼلې او نورو هیوادونو ته هغه اوبه چي د نړیوالو قوانینو او معاهداتو له نظره هغه د همســـایه هیوادونو نه کیدلې راوګرځولې او لوی بندونه يې پرې جوړ کړل لکه د فراه بخش آباد , د نیمروز کمال خان او داسـي نور چي دا لړۍ تر اوسه ادامه لري.

---

[2] ـ د یادولو وړ ده چي د اوبو کلیمه چي معادله عربي کلیمه يې (ماء) ده، ۶۳ ځله په قرآن عظیم الشان کي په مختلفو آیتونو کي راغلې.

کمال خان بند د هیواد د لویو بندونو په شان هغه لوی د اوبو مهارولو او کنټرول بند دی چې د هلمند پر سیند او د نیمروز ولایت جنوب ته د چهار برجک ولسوالۍ په ۱۸ کېلومترۍ کې پروت دی؛ دا بند لس زره کلن تاریخ لري چې د جوړېدو چاري یې د ګوډ تېمور د وختونو پوري تړل کېږي چې د سیستانیانو سره د تیمور د جګړې په پایله کې دا بند ونړېدی او تر ډېره وخته پوري دغسي نړېدلی پاته و؛ د ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال هم د یاد بند د رغولو لپاره مثبت ګامونه پورته سول چې پدې لړ کې کولای سو د وخت د لومړي وزیر موسی شفیق یادونه وکړو: موسی شفیق د کمال خان بند د بیارغولو او د هېواد د اوبو د کنټرول او ایران سره د یادو اوبو د شخړې او سیاسي ترینګلتیا د حلولو لپاره د ایران د وخت لومړي وزیر امیر عباس هویدا سره خبري اتري پیل کړې او د ډیپلوماټیکو مذاکرو په پایله کې د دواړو هیوادونو ترمنځ د اوبو د وېش په هکله ۱۲ ماده یېز هوکړه لیک لاسلیک سو.

د یاد هوکړه لیک د دومي مادې پر اساس او د ۱۹۲۰ د بارسلونا کنوانسیون پر بنسټ ایران هېواد ته حق ورکړل سو چې کمال خان بند څخه په ثانیه کې ۲۶ متر مکعبه او په کال کې ۸۵۰ میلیون متر مکعبه اوبه ترلاسه کړي، خو د وخت تېرېدل او د بند جوړېدو ته نه پاملرنه ددې لامل سو تر څو زموږ ګاونډی هیواد ایران د لاسلیک سوي هوکړه لیک خلاف څو چنده او کال کې شاوخوا ۵.۱ میلیارده متر مکعبه اوبه ترلاسه کړي او یادو اوبو څخه د خپل کرهنیز سکتور د غوړېدا او اقتصادي پرمختګ او پیاوړتیا لپاره ګټه پورته کړي، زموږ له اوبو څخه تولید سوي توکي پر موږ وپلوري او دا لړۍ تر ننه جاري وساتي.

په کال ۱۳۹۰ لمریز د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال د بند د بیارغوني اصلي کار په درو برخو کې بیا پیل سو، چې دوې برخي یې د حامد کرزي د حکومت په دوران کې او درېیمه خو ډېره مهمه برخه یې د اشرف غني د حکومت په دوران په ۱۳۹۶ لمریز کې پیل سوه، چې خوشبختانه ټولي چاري یې بشپړي او د څو ورځو په جریان کې به افتتاح سي (BBC).

ددې مقالې اصلي موضوع د کمال خان بند سیاسي، حقوقي او ټولنیز ارزښت ده، اوس به د هر ارزښت په اړه بېل بېل د بېلو سرلیکونو په ترڅ کې به پرې بحث وکړو.

**۱. د کمال خان بند سیاسي ارزښت:**

د افغانستان او ایران تر منځ د هلمند د اوبو د استفادې پر سر هغه وخت اختلاف رامنځته سو، چې انګرېزانو د افغانستان او ایران د پولو د تثبیت په برخه کې دخالت پیل کړ (سینایي او جمالي، ۱۳۹۷: ۷۰) او د هغه وخته د دواړو هیوادونو تر منځ سیاسي ترینګلتیا اوج ته ورسېدل او د اشرف غني په ولسمشر کېدو او د هلمند د رودخانې پر سر د کمال خان بند د پاته کار د بیا پیلېدو سره د دواړو هیوادونو تر منځ سیاسي ستونزي راولاړي سوې.

په اوسني عصر کي پاکي او خوږې اوبه د نورو قیمتي مادو او ذخایرو په څېر لوړ قیمت او ارزښت لري، چي دولتونه کوښــښ کوي، چي یا خپلي اوبه مهار کړي او یا هم د نورو دولتونو څخه چي اوبه ورته راځي د هغو څخه زیاته استفاده وکړي (کوهزاد: ۱۳۹۴).

د هیوادونو امنیت او ثبات یو د بل سره تړلي دي، د کمال خان بند په شـان د نورور بنسـټیزو پروژو پلي کول به وکړای سي په افغانستان کي د امنیت په راوستلو او د سیاسي ثبات په پیاوړي کولو کي حیاتي رول ولوبوي او همدارنګه د کمال خان بند په فعاله کولو سره به له ایران سره د متقابلو سیاسي او ډیپلوماټیکو اړیکو په رغولو کي رغنده رول ولري او دا بندبه افغان دولت ته دا فرصـت په لاس ورکړي چي ددې بند څخه د ایران په وړاندي د یوې سـیاسـي الې په توګه کار واخلي.

**۲. د کمال خان بند حقوقي ارزښت:**

د افغانستان او ایران ترمنځ داوبو د وېش تړون په ۱۳۵۱ کال کي د کب د میاشتي په ۲۲ مه نېټه چي د ۱۹۷۳ میلادي کال د مارچ له ۱۳ نېټي سره سمون خوري د کابل ښار کي د وخت صدراعظم شهید محمد موسی شفیق او د ایران صدراعظم امیر عباس هویدا له خوا لاسلیک سو؛ د یاد

تړون له مخې، ایران ته د هلمند له سیند څخه باید په کال کې ۸۵۰ میلیونه متر مکعبه اوبه ولاړې سي؛ پداسي حال کي چي د افغانستان کابو ۷۰ سلنه اوبه د دوی پر لور رواني دي او د کورنیو جګړو او کړکیچونو له امله د هغه تړون د ایران له خوا په صداقت سره عملي نه سو او د معلوماتو له مخې، حتی ایران هیڅکله د پورتني پرېکړې له مخې عمل نه دی کړی او د تړون پرېکړې یې هم عملي کړې نه دي، ایران تقریبا په ۴۴ کلونو کي تر خپل حق ۷۵ سلنه زیاتي اوبه تر لاسه کړې دي؛ زموږ با تدبیره ولسمشر د اوبو ښه مدیریت په موخه د بندونو جوړولو او داوبو د مهارولو ته مخه کړې او جامع پلان او امکانات یې ورته برابر کړې دي او دا به د هیواد په سیاسي تاریخ کي یوه لویه لاسته راوړنه وي.

کونړ، هلمند، کابل، بلخ آب، کوکچه او مرغاب هغه مهم سیندونه دي، چي زموږ له خاوري سرچینه اخلي، خو موږ په خپل وطن کي د اوبو له کمبود سره مخ یو، پداسي حال کي چي زموږ سیندونه ګاونډیانو ته په میلیاردونو لیټره خوږې او پاکي اوبه ورکوي او موږ تر اوسه د خپلو اوبو یوازي ۱۰ % مهار کړې دي.

همدا ډول باید ګاونډي هیوادونه هم داوبو دعادلانه وېش لپاره یوې اصولي موافقې ته غاړه کښېږدي، موږ د هلمند د اوبو پرسر له ایران سره موافقه لرو او ددې موافقې په چوکاټ کي کیدای سي ډېر اغېزمن ګامونه واخلو.

اوسني نړیوال شرایط دا مني چي د ځینو طبیعي موادو د کارونې لپاره باید منظم سیمه ییز تیاری ونیول سي، ځکه دا هم حقوقي او هم علمي اړخونه لري.

معادن او اوبه زموږ د هیواد د طبیعي پانګي ستره برخه جوړوي، خوموږ ورڅخه تر اوسه کومه د پام وړ ګټه نه ده اخیستې.

د حقوقي اړخه د افغانستان دولت ته به د بندونو رغونه دا زمینه مساعده کړي، چي ګاونډیو ته د تړونونو او نړیوالو قوانینو پر اساس اوبه ورکړي او د اضافي اوبو ورکولو څخه به ممانعت وکړي او له دغو اوبو څخه به د افغانستان د خاوري د بیارغوونې لپاره مثبته استفاده کوي.

**۳. د کمال خان بند تولنیز ارزښت:**

اوبه د هر ژوندي موجود د ژوند لپاره حیاتي ارزښت لري، ځکه هر شی په اوبو سره ژوندی دی، افغانســتان چې د درېیمي نړۍ او شــاته پاته هیوادونو له ډلې څخه شــمېرل کیږي، ډېري ټولنیزي ســتونزي لري، چې په نتیجه کې فقر، بې وزلي، بې امنیتي او لوړ خطرات منځته راغلي دي (نړیوال بانک، ۱۳۹۶: ۲۳) څنګه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت باید د اساسي قانون پر بنسټ د هیواد د بیارغوونې یا اعمار په اړه په ټولو سـیمو او سـاحو کې د متوازني ودې اصـل په پام کې ونیسي، خپل پلانونه او ستراتیژۍ داسې عیاري او پلي کړي، چې د هیواد ټولې سیمي له هغې څخه په برابر او تساوي ډول برخمنې سي (اساسي قانون، ۱۳۸۲: ۶ ماده) او همدارنګه دولت مکلف دی چې د ټولنې د پرمختګ او د اوســېدونکو د هوســا ژوند د تأمین په خاطر په بېلابېلو ټولنیزو او اقتصادي ساحاتو کې لازم تدابیر ونیسي، د هیواد له ذخایرو څخه د خلکو د ژوند د هوسایني لپاره استفاده وکړي، د کرهنیزو محصولاتو لپاره بازار موندنه وکړي، د سرشارو سرچینو په ځانګړي ډول له اوبو څخه د برېښــنا او انرژۍ په تهیه کولو او په کرهنه کې د بندونو، کانالونو او ویالو په کیندلو سره پرمختګ وکړي، تر څو د خلکو ژوند هوسا او هیواد د پرمختګ په لور ګامونه واخلي (ژمن، ۱۳۹۶: ۲۷).

د کمال خان بند په ګټې اخیستنې سره به په زرګونو بزګر پر کار سي، په لکونو جریبه شاړي مځکې به خړوبه سـي، خلکو ته به کاروبار پیدا سـي، د ښـارونو او ولسـوالیو تر منځ به واټن کم سـي، د کمال خان بند په شـاوخوا کې به د ژوند لپاره زمینه مسـاعده او ښـوونځي، مدرسې، پوهنتونونه، مسجدونه، تفریحي پارکونه، صحي کلنیکونه او نور مهم عام المنفعه پروژې به پلي سې، سېلابونه به کنټرول کړي، د کرهنې په سکتور کې به د لویې پانګونې باعث سي (سیستانی: ۱۳۹۹) همسایه هیواد ایران ته د هلمند د اوبو د تړون پر بنســـټ له حقابه څخه علاوه زیاتې اوبه ورکول به د مادیاتو په مقابل کې کیږي، چې له دې لارې به زموږ دولت ته په میلیونونه ډالر راځي او دولت به د افغانانو د ژوند د بهبود لپاره ورڅخه په کلني بودجه کې کار اخلي.

**پایله:**

په نړیوالو اړیکو کې د دولتونو تر منځ د وسله والو نښتو د مستقیمو لاملونو څخه یو لامل خوږې اوبه دي، چې خوشبختانه زموږ ګران هیواد افغانستان د خوږو اوبو ډېره برخه په لاس کې لري.

اوســـنیو پېړیو کې دولتونه اوبه د وســـلې په توګه کاروي، چې د نړیوالو اړیکو او پر دولتونو د تاثیر درلودلو لپاره بهترینه لار او وسیله ده او ددې تر څنګ ځیني وختونه د دولتونو د اړیکو په خړپړوالي کې رغنده رول درلودلای سي.

د اوبو مهارول د ولسـمشـر اشـرف غني د ټاکنیزو کمپاینونو شـعار او دده د لومړي دورې ډېر ګرم عنوان و چې ولسـمشـر به پرې ټینګار کاوه او اوبه یې د افغانسـتان عزت وګڼلې او نورو هیوادونو ته هغه اوبه چې د نړیوالو قوانینو او معاهداتو له نظره هغه د همســـایه هیوادونو نه کیدلې راوګرځولې او لوی بندونه یې پرې جوړ کړل لکه د فراه بخش آباد , د نیمروز کمال خان او داسې نور چې دا لړۍ تر اوسه ادامه لري.

د افغانسـتان او ایران تر منځ د هلمند د اوبو د اسـتفادې پر سـر هغه وخت اختلاف رامنځته سـو، چې انګرېزانو د افغانســـتان او ایران د پولو د تثبیت په برخـه کې دخـالـت پیل کړ(نړیوال بـانـک: ۱۳۹۶) او د هغه وخته د دواړو هیوادونو تر منځ سیاسي ترینګلتیا اوج ته ورسېدل او د اشرف غني په ولسمشر کېدو سره او د هلمند د رودخانې پر سر د کمال خان بند د پاته کار د بیا پیلېدو سره د دواړو هیوادونو تر منځ سیاسي ستونزي راولاړي سوې.

د هیوادونو امنیت او ثبات یو د بل ســره تړلي دي، د کمال خان بند په شــان د نورور بنســټیزو پروژو پلي کول به وکړای سي په افغانسـتان کې د امنیت په راوسـتلو او د سـیاسـي ثبات په پیاوړي کولو کې حیاتي رول ولوبوي.

د حقوقي اړخه د افغانسـتان دولت ته به د بندونو رغونه دا زمینه مسـاعده کړي، چې ګاونډیو ته د تړونونو او نړیوالو قوانینو پر اساس اوبه ورکړي او د اضافي اوبو ورکولو څخه به ممانعت وکړي.

د کمال خان بند په ګټې اخیستنې سره به په زرګونو بزګر پر کار سي، په لکونو جریبه شاړې مځکې به خړوبه سـي، خلکو ته به کاروبار پیدا سـي، د ښــارونو او ولســوالیو تر منځ به واټن کم سـي، د کمال خان بند په شــاوخوا کې به د ژوند لپاره زمینه مســاعده او ښــوونځي، مدرسـې، پوهنتونونه، مسجدونه، تفریحي پارکونه، صحي کلینیکونه او نور مهم عام المنفعه پروژې به پلې سي، سېلابونه به کنټرول کړي، د کرهنې په سکتور کې به د لویې پانګونې باعث سي.

سرچینې او ماخذونه:


۱) قرآن کریم.

۲) ژمن، محمد شفیق، ۱۳۹۶، د افغانستان د اساسي قانون تحلیل، لومړی چاپ، نوی مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل - افغانستان.

۳) د افغانستان اساسي قانون، ۱۳۸۲، د عدلیې وزارت رسمي جریده، ۸۱۸ ګڼه.

۴) سـینایي، وحید، جمالي، جواد، دیپلماسـی اقتصـادی ج.ا.ایران در افغانسـتان و مدیریت اختلافات آبي دو کشـور، ۱۳۹۷، فصلنامه مطالعات راهبردی سیاست گذاری عمومی، دوره ۸، شماره ۲۸، پاییز ۹۷.

۵) کوهزاد، حسین، ۱۳۹۴، چالش ها وظرفیت های همکاری اقتصادی ایران و افغانستان، سایت اقتصاد آسیا.

۶) نړیوال بانک، ۱۳۹۶، د افغانستان اقتصادي ګزارش

(documents.worldbank.org/curated/en/746471495781300014/pdf/115229-dari-public-afg-development-update-spring-2017-dari.pdf)

۷) کاندید اکاډمېسن محمد اعظم سیستاني فیسبوک پاڼه

(https://www.facebook.com/713662963/videos/10158947939277964/)

۸) https://www.thebluepeace.org/water-diplomacy

9) https://www.nationalgeographic.com/magazine/article/water-is-life

10) https://www.unicef.org/wash/water-scarcity

11) https://www.bbc.com/persian/afghanistan-54854466